پوهنمل حاجی محمد نوزادادی ۲۰۱۲/۰۱/۰۸

# ایا د ځمکی کره د ژوند د پاره ډیزاین شوی نده؟

( لومړی برخه )

ماته تجربی ښودلی چی د کتاب لوستل په ترانسپورتی وسیلو کی د سفر پرمهال وخت ډیر لنډوی. د شوروی نظام په وخت چی لا زلمی او په لوړو زده کړو لګیا وم، د کتاب لوستلو فرهنګ هلته خورا پرمخ تللی و، د اروپاپانوسره خو یی دا ځانګړتیا اصلا د پرتلی وړ نده. په ښاری بسونو، مترو او نورو وسیلو کی به خلګ د یوه مخه په کتاب، ورځپاڼو، مهالنیو او د نورو چاپی رسنیو په لوستلو لګیا وه. څو ورځی وړاندی دلته په ډنمارک کی ښاری بس ته وختم او پر یوی چوکۍ کښیناستم، څنګ ته می پر خالی چوکۍ یو براشور له چانه پاته شوی پروت وو. ماته چی دکتاب لوستلو سره مینه د ځوانۍ له وخته پاته او لاهم د نیکه مرغه کمزوری شوی نده، هغه می را واخیست او ورقی می پرله واړولی. د براشور نوم ( **ایا ژوند یو خلقت دی؟**) وو او منځپانګه یی دا وه څو د علمی دلایلو پر بنسټ وښئی چی د ځمکی کره په پلانیزه ډول د ژوند کولو د پاره ډیزاین شویده نه داچی دیو لړ طبعی پیښو تصادفی پایله ده. داچی زه یو معدن پوه یم او دځمکی پیژندنی په څیړنو کی می ټوله ځوانی تیره شویده نو د براشور هغه برخه چی د دغی موضوع سره یی تړاو درلود راته په زړه پوری و ایسیده او په ځیر می ولوستل، وروسته می پښتو ته وژباړل او د کمپیوټر حافظی ته می وسپارل.

تیره ورځ زما یوه فرهنګی دوست او وتلی فلسفه پوه ډاکتر شیراقا حرکت د تل پشان خپله نوبتی لیکنه چی د فلسفی بحث لړۍ ده، دبریښنالیک په مټ ګویا د ارزونی په موخه راولیږل. دلوستلو سره می خپله هغه نوموړی ژباړه رایاده شوه چی تازه می ژباړلی او د کمپیوټر په ارشیف کی می پرته وه. دا ژباړه راته دده دغه فلسفی بحث د پخولو په موخه اړینه ښکاره شوه او و می پتییل چی دهغه په تړاو یی نشر ته وسپارم. ځمکه د میلیاردونو کهکشانونو په ډله کی د یوی ذری په توګه هغه خلقت دی چی موږ ته یی د معرفت توان را په برخه شویدی او په همدغه موخه یی د نوموړی فلسفی بحث سره تړاو ور کول بیځایه کار نه بولم. هیله ده حرکت صاحب یی ولولی او د خپل پیل کړی فلسفی بحث سره یی اړینوالی یا نه اړینوالی و ارزوی.

حرکت صاحب د خپل دغه بحث پیل داسی کوی: « په دې جهان کې دټولو خلقتونو نشئت او اغاز د الاهي ذات پورې اړه لري. الاهي ذات یواځې د الاهي خلقتونو له مخې، چې د الاهي علم په بنیاد قانونمند پېدادي، دانسان لپاره د انساني مقدراتو په کچه د معرفت وړ ګڼل کیږي . . . انساني معرفت په حقیقت کې له مختلفو لارو عملي ګڼل کیږي : ۱) ټولنیز چاپیریال، چې مونږ ترې په شعوري لحاظ متأثر او متحسس او ارتباط کې یو . . . ، ۲) طبیعي چاپیریال دې، چې زمونږ د ژوند وسایل او شرایط برابروي . . . همدغه عالم الاسباب دې چې دالاهي علم له مخې قانونمند پیدا دي، قانونمند پایي او قانونمند بدلون او تکامل مومي . . »

تر لوړی لنډی سریزی وروسته چی د یوه خلقت په توګه یی د ځمکی د کری او وربا‌ندی سمبال شوی ژوند تړاو د حرکت صاحب دفلسفی بحث سره په ګوته کاوه، دا تاسی او دا هم د هغه براشور څخه پښتو ته ژباړل شوی متن:

د ځمکی پر کره باندی ژوند د یوه لړ فکتورونو له برکته منځته راغلی دی چی بیله دغو فکتورونو څخه یی تصور هم د امکان نه وتلی کار و. که دغه فکتورونه (یو نیکمرغه تصادف) وګڼو، ډیره برخه یی ترشلمی پیړۍ پوری هم لا هم ناپیژندل شوی وه.

**۱ – د ځمکی ایډیال ادرس:**

که څوک غواړی خپل ادرس چاته ورکړی، نو تر ټو مهم توکی به یی داوی – د هیواد نوم، دښار نوم او د کوڅی نوم چیری چی ژوند کوی. که وغواړو د ځمکی د کری ادرس ولیکو، هغه به خامخا داسی وی: هیواد (کهکشان)، ښار (لمریز نظام یانی لمر او ورسره تړلی سیاری) او کوڅه (هغه مدار چی ځمکه یی په دغه نظام کی لری).

د استرونومی (ستوری پیژندنی. ژباړ) او فزیک د پرمختګ له برکته اوس څیړونکی پدی پوهیدلی دی چی په بی پایه جهان (فضا) کی د ځمکی دغه موقعیت ځانګړی ښیګڼی ورته اماده کړیدی لکه: لومړی داچی زموږ لمریز نظام یو ایډیال ځای لری چی نه د کهکشان مرکز ته ډیر نژدی دی او هم نه ډیر ورڅخه لیری دی. څیړونکو دا معلومه کړیده چی که لمریز نظام بیله دغه بل هر ځای پروت وای، هلته به د ژوندی موجوداتو د پیدا کیدو او پاینت امکان نه وای، ځکه یی نو یوازی دغه موفعیت د « داستوګنی ساحه » بللی ده. یوازی همدغه ساحه ده چی د ژوند د پاره ټول اړین عناصر (Elements) دکومو بیله شتون څخه چی ژوند امکان نلری، ور پکښی را ټول شویدی. که لدغی ساحی نه په زیات لیری واټن کی زمو ښار (لمریز نظام) پروت وای نو دنوموړو عناصرو ډیره لږ برخه هلته منځته راتلای شوه او که چیری بیا لدغه اوسنی واټن نه مرکز ته نژدی پروت وای نو هلته به د ژوند امکان پدی خاطر نه وای چی د وژونکو


افغان جرمن آنلاین تاسو په درنـښت همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

تشعشاتو کچه ډیره لوړه ده. دا هغه څه دی چی په ( Scientific American ) ژورنال کی راغلی دی. پدی توګه ویلای شو چی زموږ لمریز نظام د ژوند دپاره په ډیره ایډیاله ساحه کی پروت دی.

**۲ ـ د استوګنی دپاره ایډیاله کوڅه:**

زموږ د اوسیدلو کوڅه یانی په لمریز نظام کی د ځمکی د کری مدار همدارنګه ډیر ایډیال موقعیت لری. دا مدار دلمر څخه نژدی ۱۵۰ میلیون کیلومتره واټن لری. که لدغه واټنه نوموړی مدار زیات لیری وای نو هلته به دومره یخنی وای چی د ژوند امکان بی له منځه وړی او لدی نه که زیات نژدی وای نو د ډیری ګرمی له کبله به ژوند هلته امکان نه درلودلای. داچی د ځمکی مدار د لمر پر شاوخوا دایروی ته ورته لاره وهی ځکه یی نو واټن د لمر څخه د کال په ټوله موده کی تقریبا په برابره کچه پاتیږی.

لمر بیا پخپله یو ایډیال برقی ستیشن ګڼلای شو چی مناسب لویوالی لری او د ژوند د پاره په اړینه کچه انرژی تولیدوی. په همدی خاطر پر ځای خبره ده چی د « ځانګړی ستوری » پنامه یاد شویدی.

**۳ ـ یو ډیر مناسب ګاونډی:**

ښه ګاونډی د اوسیدلو د پاره مهم شرط دی. که چیری د ځمکی د کری دپاره یو ښه ګاونډی انتخابول پکار وی نو تر سپوږمی پرته به بل مناسب ګاونډی پیدانشی. د سپوږمی قطر د ځمکی د قطر نژدی څلورمه برخه دی. په لمریز نظام کی د نورو سپوږمیو په پرتله زموږ سپوږمی د ځمکی دکری په تناسب ډیر مناسب او ایډیال لویوالی لری. ددی ګاونډی ګټورتوب دبیلګی په توګه دادی چی د سپوږمی له برکته په بحرونو کی مد او جزر منځته راځی کوم چی د ژوندنی چارو پخاطر د چاپیریال د پاره ډیر اهمیت لری. لدی نه پرته سپوږمی ددی لامل هم ګرځیدلی ده چی دځمکی د څرخیدو محور ثابت ساتل کیږی. دسپوږمی پرته چی ګویا دځمکی سره ګنډلی ده، ځمکه به متزلزله پر مدار ګرځیدلای او دا امکان یی هم وو چی پر یوه اړخ چپه شوی وای ... دی کار کولای شوه چی د اکلیم او مد وجزر د پاره خطرناک تمام شی.

**۴ ـ د ځمکی ایډیال میلان او څرخیدل:**

پر خپل شاوخوا باندی د ځمکی د څرخیدو محور نژدی ۲۳،۴ درجی میلان لری او دا شی ددی لامل ګرځیدلی چی د کال څلور فصله منځته راشی، مناسبه د حرارت درجه تامین شی او د اکلیم بیلابیل زونونه پیداشی. د« Rare Earth- Why Complex Life Is Uncommon in the Universe » پنامه کتاب کی لیکل شویدی چی پدغه کچه د میلان درجی ځمکی ته ډیر ایډیال حالت ورکړیدی.

بل ایډیال شی دلته د ورځی او شپی اوږدوالی دی چی دځمکی د وضعی حرکت (پرخپل شاوخوا څرخیدلو) له کبله منځته راځی. که ددغه څرخیدو چټکتیا له اوسنی کچی نه ټیټه وای، د ورځو اوږدوالي زیاتیده او د ځمکی هغه برخه چی لمر ته څیرمه راتله، ډیره زیاته به ګرمه او هغه مقابل اړخ به ډیر زیات سوړ وای. که چیری د څرخیدو چټکتیا له اوسنی کچی نه ډیره زیاته وای نو د ورځو اوږدوالی به دشپو په پرتله کم وای، نه دریدونکی توپانی بادونه او نوری زیان رسونکی پدیدی به منځته راغلی وای.

د لومړی برخی پای. نوربیا

---


افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولـئ